**په افغانستان کې د شته جګړې او فتنې پر وړاندې باید زموږ دریځ څه وي؟**




(ژباړه)

د افغانستان د دې ورځو پېښې د هر مسلمان زړه لړزوي. وینې تویونې، ویجاړی، ځانمرګي او بمي بریدونه، د ځوانانو، ښځو او ماشومانو د جنازو او د ویجاړ کورونو صحنې د افغانستان د دې ورځو حالت دی. موږ هره ورځ په بېلابیلو نومونو د خلکو د وژلو شاهدان یو. ځینې ډلې د دولتي ځواکونو، ځینې د دولت د مخالیفینو او طالبانو، ځینې د پاڅونوالو ځواکونو او ځینې په یاده جګړه کې د عامو خلکو په نامه وژل کېږي. داسې جګړه ده چې ځوان او زوړ، له کوم توپیر پرته خاورو ته لېږي.

اوسنی حالت چې پر زور تپل کېږي، انسان اړ باسي چې غبرګون وښيي، له یوه لوري سره یوځای شي او د خپل ځان او مال د ساتنې لپاره هڅې وکړي. په دوی کې له ځینو ډلو سره مخ یو، چې بېلابېل دریځونه لري. یوه ډله له دغه ناوړه حالت څخه په ګټه اخیستنې سره کبان نیسي او د خپلو ګټو د ساتنې په هڅه کې دي او شته ناوړه حالت د قدرت او پانګې د پیدا کولو لپاره ښه موقع بولي. ځېنو ډلو د موجود حالت په اړه احساساتي دریځ نیولی او لاس پر ناوړه کړنو پورې کوي. بلې ډلې د کمزورۍ له امله چوپتیا غوره کړې او یاد وضیعت یې پر ځان منلی دی. یوې ډلې د اړتیا له امله وسله اخیستې تر څو د خپل ځان، مال او کورنۍ ساتنه وکړي. یوې ډلې خلکو پر ننګونو سربېره اروپا ته د ښه ژوند په نیت مخه کړې؛ چې ځینې یې په لار کې ووژل شول، ډوب شول، پر ناموس یې تېری وشو

او ځیني نور اروپا ته له رسېدو سره سم په غربي ټولنه کې ذوب شول او په ژوند کې یې اسلامي ارزښتونه له لاسه ورکړل. ځیني ډلې د خپل تللي قدرت د بېرته لاسته راوړلو لپاره ایتلافونه او محورونه جوړوي.

خو رښتیا د دې فتنې او فساد په وضیعت کې باید زموږ دریځ څه وي؟

په یاد ناوړه حالت کې باید زموږ هر ډول دریځ کره ، دقیق او څېړل شوی وي. په ځانګړې ډول د سیاسي او قومي متنفیذینو دریځ، چې خلک ملاتړ ترې کوي او دریځ یې خلک پر یوه لوري بیایي. ځکه چې د روان حالت په اړه د یوه مسلمان دریځ له یوه اړخه چې اخروي ځواب لري، له بله پلوه هر ډول غلط دریځ نیول د دښمن ژرندې ته اوبه اچول دي.

د سم او شرعي دریځ نیولو لپاره اسلام موږ ته تعلیم راکړی، چې باید هر مسلمان د خپل عمل پر حکم وپوهېږي، د عمل د حکم له نه پوهاوي پرته باید کوم عمل تر سره نه کړي. نو له دې امله لومړی موږ د یاد حالت په اړه د شرعي حکم او قراني نصوصو سم پوهاوي ته اړتیا لرو او ورپسې باید شته سیاسي فضا په پوره توګه وپېژنو؛ تر څو وپوهېږو چې په اوسني وخت کې اسلام له موږ څخه د کوم ډول دریځ غوښتنه کړې چې وکولی شو خپله لاره روښانه او په یادو سیاسي تعاملاتو کې خپل ځای ځایګی په سمه توګه درک کړو. لکه چې رسول الله صلی الله و علیه وسلم به په هغه وخت کې د شرایطو د څېړنې او نصوصو په رڼا کې د شته سیاسي حالت او قومونو پر وړاندې خپل دریځ څرګنداوه.

سره له یادو ویناوو، هغه ویجاړونکې جګړه کې، چې نن په افغانستان کې روانه ده او مختلفې ډلې په بېلا بېلو نمونو سره رول لوبوي؛ هغه امریکایې نسخه ده چې یادې خاورې ته یې پېچلې ده. په افغانستان کې د امریکا موخه د یوه کمزوري، ماتېدونکي او لاسپوڅي نظام جوړول دي، چې پکې داخلي رقابتونه څپې ووهي او یاد رقابتونه د رهبرانو پر مټ د خلکو تر منځ ولېږدول شي؛ تر څو خلک، حکام، سیاسي او قومي مشران په قومي، ژبنیو او سمتي رقابتونو کې بوخت وي، د یاد ناوړه سیاست اصلي طراح ونهویني او دښمن (امریکا او ناټو) ملګري او مرستندوی وبولي.

د بوختیا، یاد حالت د دې لامل شوی چې خلک خپله مخینه ونه شي څېړلای، چې په تېرو کې چا د کومو پروسو په نامه موږ کمزوري کړو او ضربه یې راکړه؟ ونه شي کړی چې له راتلونکې څخه روښانه انځور ولري او په پاکه هنداره کې راتلونکی وضیعت ننداره کړي. ځکه چې امریکا، افغانستان د خپلو ستراتېژیکو موخو لپاره کاروي، نو په ورځنۍ، موقتي، سپکې او سطحي جګړه کې د خلکو او رهبرانو بوختول د یاد سیاست لازمي برخه ده. تر څو

له یوه پلوه خلک د یو بل وینو ته تږي کېنوي او له بله پلوه متنفذین او رهبران په خپل منځ کې سره واچوي او پایله کې د دوی د قزیکي حذف لپاره اقدام وکړي.

له یادو مواردو څخه، یوه یې د ولسوالیو د سقوط او نیولو لوبه ده. په دې وروستیو کې طالبانو د افغانستان ځینې ولسوالۍ ونیولې او له څه مودې ورسته بیرته د دولت تر ولکې راغلې. د سقوط او نېونې دا لوبه، د دې لامل شوې چې تر ټولو عام خلک ډېره ضربه وزغمي. د طالبانو او دولت تر منځ جګړه د عامو خلکو د وژنې او د دوی د ورځني ژوند د خنډ لامل شوې ده.

دلته اړینه ده، چې دې ته اشاره وکړو چې څوک له یادو بریدونو څخه ګټه اخلي، په داسې حال کې چې د یادې جګړې قرباني عام او غریب خلک دي؛ نه امریکایي اشغالګر عسکر. دا بریدونه په خلکو کې د تفرقې، نفاق او د اسلام د بدنامېدلو لامل کېږي. د یاد کار پایلې خلک هغې پایلې ته رسوي، چې له هغو ډلو څخه چې اسلام ته د خدمت کولو تر نامه لاندې کار کوي؛ زړه توري شي او د دوی د ډار، بې باورۍ او نهیلۍ لامل کېږي. د دې تر څنګ یاد حالت له ډلو څخه د خلکو د نفرت او غربي اجنډا ته د خلکو د نږدېوالي لامل کېږي او غربي لورى لا ځواکمنېږي او شتون ته یې ډېرې توجیه پیدا کوي.

یاد ناوړه حالت د غرب دا ادعا تاییدوي، چې افغانستان ترهګرو نیولی او تسلط پرې لري او په افغانستان کې د غرب شتون د ترهګرو د له منځه وړلو لپاره دی. دا حالت د ترور او وحشت د دوام لامل کېږي او د "له تروریزم سره د جګړې" ماشین ــ چې په حقیقت کې له اسلام او مسلمانانو سره جګړه ده ــ ځواکمنوي او لا یې په حرکت راولي. د خواشینۍ ځای دا دی، چې زموږ خلک او رهبران د دې پر ځای چې د اوبو د ککړتبا پیل(امریکا) او د وحشت اصلي نسخې ته پام وکړي؛ تل د بې ارزښته او ټیټو حوادثو په ویاله کې قرباني شوي دي.

دولت، طالبان او ځینې نور سیمه ییز پاځونونه خپلې ګټې په یاد کړوونکي وضیعت کېویني. خو هېروي چې د دې ویجاړوونکې جګړې ګټه امریکا ته رسېږي او دا کوچینۍ بریاوې چې دوی یې ستره بریا تعریفوي؛ د یاد وضیعت د دوام او په افغانستان کې د امریکا د اشغال ژرندې ته د اوبو اچولو لامل کېږي. ان د هغو له مشروع جګړې څخه امریکا ناوړه ګټه اخلي، چې جګړه په زور پرې تحمیلېږي او د دفاع لپاره یې وسله اخیستې او د دغه وضیعت په کرکېچن ښودلو د خپلو ځواکونو زیاتولو ته لار هواروي.

د شته وضیعت تر ټولو بده سناریو دا ده، چې قاتل او مقتول، ظالم او مظلوم دواړه مسلمانان دي. که هغه هره ډله او یا هر ډول خلک وي، که جبراً د ځان د دفاع لپاره وسله اخلي او جګړې ته ننوځي او که ښکېل لورى وي چې په جګړه کې د قاتل څېره ښیي. نو اړینه ده چې یو ځل سر په ګرېوان کې ښکته کړو او سوچ وکړو چې تر څو به مو

دا خاين نظامونه او د دوی باداران غولوي. دا يوه مسلمان ته مناسبه نه ده چې له يوې سوړې دوه ځله وچيچل شي. لکه په اويايمه لمريزه لسيزه کې چې مجاهدينو د يو بل پر وړاندې سنگر ونيوو، قدرت ته د رسېدو لپاره يې د يو بل وينې تويې کړې، د داخلي رقابتونو په پايله کې يې په هېواد کې سياسي ناورين رامنځ ته کړ او بلاخره په افغانستان کې د امريکا د راتگ لامل شول.

نو جدي اړتيا ده چې د فتنې او فساد په اوسني حالت کې مو دريځ ډېر دقيق او له اسلامي مبدا څخه راپورته شوی وي، که څه هم دا ډېر ستونزمن کار دی او حکيمو او مدبرو رهبرانو ته اړتيا لري. لکه څنگه چې موږ په اسلامي تاريخ کې داسې ډېرې بېلگې لرو چې پکې يو لوری نيول او دريځ ښودل ډېر ستونزمن کار و. د بېلگې په توگه، د خوارجو قضيه، د حضرت علي او عائشې تر منځ اختلاف او داسې نورې ډېرې بېلگې شته چې پکې د يو لوري پلوي او دريځ ښودل ستونزمن دي؛ په ځانگړي ډول د هغو سياسي او د خلکو د رهبرانو لپاره چې پلوي يې د زرو تنو د مرگ او ژوند ساتنه کوي او يوه لوري ته ځانگړی وزن ورکوي.

موخه دا نه ده چې موږ لاس تر زنې کېنو او د وضيعت ننداره وکړو او د بدلون لپاره د مبارزې لار ونه نيسو؛ بلکې موخه دا ده چې حق وپېژنو او په هر ډگر کې د حق دفاع وکړو، ان که مو له شخصي، ډله ييزو، سمتي او د تېر وخت له کړنې سره په ټکر کې وي. په موجود سياسي نظم (د افغانستان دولت) او په ياد ظالم نظام کې گډون کول او د اصلاحاتو او قدرت نيولو لپاره هڅې مو له حق څخه لرې کوي او د شته قضيو په اړه مو دريځ متزلزل کوي او په ډېرو برخو کې مو د اوسنيو نظامونو او د هغوی د بادارانو په جرم کې شريکوي.

د دې تر څنگ چا چې نن يې د امريکا تر څنگ قدرت او پانگه موندلې او د ديني ارزښتونو او خلکو پر وړاندې عجيب و غريب دريځونه نيسي، بايد پوه شي چې تر هغه چې امريکا يې په سياسي معاملاتو کې د مهرې په توگه کاروي. تاسو به قدرت لرئ، خو کله مو چې د کارونې تاريخ تېر شي، ځای به مو  کثافت داني وي او خلکو او تاريخ ته به مختوري وئ.

د اسلام له ښکلاوو څخه دا ده چې مسلمان پوه، با تدبيره او په دقت روزي او هغه د پوهې او سياسي وعی (پوهاوي) په وسله سمبالوي، چې هر قدم او هره پرېکړه يې په حکمت وي. ځکه چې اسلام غواړي، چې لارويان يې د نړيوالو لپاره تر ټولو ښې بېلگې او مډلونه وي. اسلام داسې نسل روزلی او روزي چې د نړۍ سياست پر صداقت او فضيلت پر مخ بيايي، دريځ يې پر موجودو واقعيتونو او د نفس هوا، نه بلکې پر اسلامي مبدا وي.

بايد پام مو وي، چې پر هره اجنډا او سياسي حل لاره چې منگولې لگوو، بايد  له اسلامي مبدا يې سرچينه اخيستې وي او که هرې حل لارې او اجنډا له اسلامي مبدا سرچينه نه وي اخيستې؛ نو حتما له امريکا او غرب

څخه اغېزمنه وي او زموږ لپاره د لارې څراغ او الگو نه شي کېدای؛ ځکه چې زموږ د ژوند له اساسي ارزښتونو او فکرونو سره په ټکر کې وي. لکه چې نن ډېرې داسې شیطاني ډلې جوړې شوې، چې داسې مبدایي سیاسي حل لارې او اجنډا نه شي وړاندې کولی، چې د اسلام په گټه او د خلکو د ژوند په ښه والي کې بدلون راوړي.

گرانو ورونو په رښتیا چې د دې وخت را رسېدلی چې د خپلو او د مسلمانو ورونو د وینو په ارزښت پوه شئ او د خپلو شخصي او بې ارزښته گټو لپاره ــ چې تاسې یې سترې بولئ ــ هغه تویې نه کړئ او پرېنږدئ چې ستاسو وینه د استعمار راتلونکې تضمین کړي. د یوه مسلمان د وینې ارزښت له کعبې څخه هم با ارزښته دی او دا ارزښت به یوازې د راشده ثاني خلافت د دولت تر سیوري لاندې درک کړئ. هغه ځای چې وینې به د اسلام د سرلوړۍ لپاره تویېږي او هغه ښکلي باغونه چې سترگو نه دي لیدلي، غوږونو نه دي اورېدلي او په ذهن کې نه دي انځور شوي، الله سبحانه و تعالی د شهیدانو لپاره ښایسته کړي دي.

**مصدق سهاک**

**د حزب التحریرـ ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر غړی**